هېڅ ډله په يوه ځای کې ناسته نه کوي چې هلته د الله یاد ونه کړي او پر پېغمبر يې درود ونه وايي، مګر دا چې (هغه ناسته به) د دوی لپاره د نقصان او پښېمانتيا لامل وګرځي؛ نو که الله وغواړي سزا به ورکړي او که وغواړي بخښنه به ورته وکړي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «هېڅ ډله په يوه ځای کې ناسته نه کوي چې هلته د الله یاد ونه کړي او پر پېغمبر يې درود ونه وايي، مګر دا چې (هغه ناسته به) د دوی لپاره د نقصان او پښېمانتيا لامل وګرځي؛ نو که الله وغواړي سزا به ورکړي او که وغواړي بخښنه به ورته وکړي».

[صحيح دی] [ابوداود، الترمذي او النسائي په السنن الكبرى کې روايت کړی دی]

نبي صلى الله عليه وسلم د الله تعالى له يادولو څخه د بې پروايۍ په اړه خبرداری ورکړی او ويلي يې دي چې کوم خلک چې په يوه مجلس کې ناست وي او هلته الله نه يادوي او د هغه په رسول صلى الله عليه وسلم درود نه وايي، مګر دا چې هغه مجلس به د قيامت په ورځ د دوی لپاره د پښېمانۍ، زيان او نقصان لامل وګرځي؛ نو که الله وغواړي دوی به د هغوی د پخوانيو ګناهونو او راتلونکي بې پروايۍ له امله په سزا ورسوي او که وغواړي نو په خپل فضل او رحم سره به يې وبخښي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5511